**مطبوعاتي اعلاميه**

# د فتوا لړۍ سلاکارانو ته يو پرانيستی ليک، وړاندې له دې چې د قيامت په ورځ الله سبحانه و تعالی ترې پوښتنه وکړي موږ ترې پوښتنه کوو

د ۲۰۱۹م کال د سپټمبر په ۱۱مه د اهالي ورځپاڼې له طارق ابو هاشيما سره، چې د نړۍ د فتوا لړۍ مشر دی، يوه مرکه خپره کړه، دې ورځپاڼې له لړۍ يوه برخه را اخيستې: «... حزب التحرير فلسطين په دې لړۍ پورې د کفر تور پورې کړی او ترې غواړي چې پر سازماني رول تر رڼا اچولو وروسته پوخوالي ته راوګرځي، چې اهالي يې اړ کړې وه د ستراتيژيکو څېړنو د برخې له مشر او په دارالافتا کې د نړيوالې فتوا لړۍ له عمومي مشر طارق ابو هاشيما سره مرکه وکړي». د پوښتنو په منځ کې يوه پوښتنه شوې وه: «موږ ټل وينو چې افتا ډلو ته ځواب وايي: ايا د تروريستي سازمانونو سره د دوی هڅې اغيزمنې دي؟» هغه ځواب ورکړ: «هو، يوه ښه انګازه لري، فلسطيني حزب التحرير تر څلورو ډېرې پاڼې د دغه لړۍ پر وړاندې وليکلې، په ځانګړي ډول کله چې دې لړۍ د لومړي ځل لپاره د روښنفکره افراطيت پام ځان ته راواړولو، د لومړي ځل لپاره يې افراطيت په دوو برخو روښنفکره افراطيت او ښکاره افراطيت وويشلو، د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې يې په اړه راپورونه خپاره شول، د تروريزم د جبهې او د نړيوال تروريزم لړۍ تر منځ يې توپير رامنځ ته کړ.»

لومړی، د حزب التحرير له خوا د فتوا لړۍ د تکفير موضوع دروغ ده، حتی که موږ له دوی څخه وغواړو چې له هغه څه لاس واخلي او توبه وکاړي چې دوی يې ترسره کوي او د اسلام له دښمنانو سره په يوه صف کې درېږي، د دوی نظر چې وايي اسلام تروريزم دی، هغه مني او داسې انګېري چې ګواکې هر مسلمان تروريست دی. تکفير زموږ کار نه دی. موږ يوازې بالمثل ځواب ورکوو او دا هغه څه دي چې هر وخت تر سره کېږي.

دويم: حزب التحرير فلسطيني ګوند نه دی؛ دا د ټول امت ګوند دی. نه يوازې د پولو په اړه فکر نه کوي، بلکې د سکايسپيکو په ويش هېڅ باور نه لري، د دوی ټينګار چې ګوند ته د فلسطيني کلمه کاروي د هېواد پالنې او خوسا خرافاتو له حس پرته بل څه نه دي، د استعماري کفر پر بنسټ د امت وېش دی، په داسې حال کې چې اسلامي امت او دولت يو دی؛ دا هغه څه دي چې الله سبحانه و تعالی يې غواړي او بايد همداسې وي. داسې بايد ونه بلل شي ـ فلسطيني، مصري يا شامي بلکې يو مسلمان بايد وبلل شي، حزب التحرير خپل ځان د يو داسې سياسي ګوند په توګه معرفي کوي چې ايډيالوژي يې اسلام ده، د امت منځ کې له امت سره کار کوي چې بېرته خپل د ژوند چارې د نبوت پر اساس د خلافت په رامنځ ته کولو سره د اسلام پر بنسټ سمبال کړي. د خپل ځان لپاره يې په مکي دور کې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم لاره غوره کړې، چې الله سبحانه و تعالی هغه ته د انصارو له خوا اسانتياوې رامنځ ته کړې، چې له ده سره يې بيعت وکړ، دوی ورسره تر هغه وخت پورې چې د مديني مشري يې تر لاسه کړه مرسته وکړه، د لومړي ځل لپاره يې اسلامي دولت رامنځ ته کړ، دې طريقې کوم مادي کار يا هم وسلوالو هڅو ته اړتيا پيدا نه کړه. ښايي د فتوا لړۍ مشر ښه خبر وي چې الفاظ او مفکوره له مرمی او تورې څخه ډېر پياوړي دي، دی ښايي په دې هم ښه پوه وي چې حزب التحرير او مفکوره يې کوم کار تر سره کوي، چې دی يې روښنفکره افراطيت بولي، يوه بيانيه چې د امريکايي رنډ شرکت څخه د باندې راوزي، چې حزب التحرير د مفکورو په جګړه کې اصلي جنګيالی بولي. له شک پرته، حزب التحرير يوه سوچه، پاکه او

بلوري ايډيالوژي له ځان سره لري، چې له تاسو او ټولې نړۍ سره پرې مبارزه کوي، لکه څنګه چې کوم شی موږ وايو او منو هغه تر لمر روښانه دي. موږ هېڅ وخت چاته دروغ نه وايو، نه جعل کوو او نه هم څوک تکفیروو، خو موږ له تاسو او هغه چا سره چې تاسو هوښیارۍ ته راګرځوي خپلې هڅې کوو. ايا په دې کې تاسو کوم سپکاوی وينئ؟! تاسو اوس هم ټینګار کرئ چې د لويديځ ليد او ستاسو دين په هغه چا په زور ومنئ چې غواړي عملي واقعيت له سره پيل کړي، د لويديځ د راپورونو سرليکونه دوی ته ورکوئ چې له ټروريزم سره څنګه معامله وکړو، د بېلګې په توګه اسلام، دا حقيقت مني چې تاسو د هغه دين پر وړاندې چې الله سبحانه و تعالی يې ژمنه کړې او  پيغمبر صلی الله عليه وسلم زيرى ورکړى دى د جګړې يوه برخه يئ:

## «ثُمَّ تَكُونُ خِلاَفَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»

### *ژباړه: د نبوت پر تګلاره به بېرته خلافت راګرځي.*

هغو کسانو ته چې د فتوا لړۍ مسولين دي! موږ تاسو ته مشوره درکړه او خپلو مشورو ته دوام ورکوو، تاسو بايد په دې پوه شئ چې ستاسو د دين له دښمنانو سره په يوه صف کې درېدل نه په دې دنيا کې تاسو ساتي، نه هم وروسته له دې، له څرنګه چې الله سبحانه و تعالی با ايمانه کارکوونکو ته د بريا ژمنه ورکړې. د نبوت پر اساس د دويم راشده خلافت رامنځ ته کول چې موږ تاسو ته په دې اړه په مخکينۍ اعلاميه کې ويلي وو، ډېر ژر راتلونکی دی. ټول امت له کپيټليزم له ظلم او بې عدالتۍ څخه تنګ راغلی او د خلافت هيله لري، چې  ټوله پروژه يې د حزب التحرير له لوري پر مخ بېول کېږي، اوس يوازې د امت مومنو ځواکونو ته اړتيا ده چې د پروژې تر څنګ ودرېږي، راسره ويې لېږدوي، مرسته وکړي او له لېږدوونکو سره يې اوږه په اوږه لاړشي تر څو پلي شي. هغه امت چې پرون يې انصار رامنځ ته کړل با ايمانه وو؛ غواړي يو ځل بيا انصار او د امت ځواکونه رامنځ ته کړي چې له ډېر ايمان څخه برخمن دي، ډېر ژر به لکه څنګه چې انصارو بريا راکړه دوی موږ ته بريا راکړي. په هغه ورځ به موږ د سرټمبه جنګياليو پر مخونو د پښېمانی او ځور نښې نښاني ووينو او په هغه ورځ به مومنان د الله سبحانه و تعالی په بريا خوښ او خوشاله وي. موږ پر تاسو غږ کوو او تر هغې مو نه پرېږدو تر څو چې ستاسو له منځ څخه څوک ځواب ونه وايي.

د کوم خلافت لپاره چې موږ پر تاسو غږ کوو د اسلام هغه مفکوره ده، چې له شک پرته د الله سبحانه و تعالی په مرسته به تاسيس شي، فرق نه کوي چې تاسو د دغه غږ پر وړاندې څومره مبارزه کوئ او د کارکوونکو غږ يې ګډوډوئ؛ دا يوازې د وخت خبره ده، موږ په کار لګيا يو او د الله سبحانه و تعالی د بري  لپاره انتظار کاږو، د الله سبحانه و تعالی برى نږدې دی! زموږ لپاره هغه وخت کافي دی چې تاسيس شي، هغوی چې مخکې له تاسيس څخه يې د دې لپاره کار کړی او هغه څوک چې وروسته له تاسيس څخه د ننه کېږي مساوي نه دي، په داسې حال کې چې دواړه ښه دي، پرته له هغو کسانو چې مبارزه کوي او د خلافت د تاسيس مخ کې خنډ ګرځي له هغو کسانو سره چې په خپلو خبرو سره غواړي د الله سبحانه و تعالی څراغونه مړه کړي مساوي دي، که بې ايمانه کسان هر څومره هم د دې په مخ کې خنډ شي، الله سبحانه و تعالي خپل څراغونه بلوي! موږ يو ځل بيا پر تاسو غږ کوو او تکراروو، له هغو کسانو سره مه يو ځای کېږئ چې غواړي د الله سبحانه و تعالي څراغونه مړه کړي، الله سبحانه و تعالي خپله روښنايي خپروي، دا به يوازې د ظالمو کسانو په زړونو کې پښېماني واچوي، الله سبحانه و تعالی ته توبه وکاږئ ځکه الله سبحانه و تعالی ستاسو توبه قبلوي او ستاسو تېر کړه وړه بښي.

اې د مصر خلکو ـ کنانه: دوی هغه کسان دي چې د فتوا لړۍ مسولیت یې پر غاړه اخیستی او ستاسو د دین پر وړاندې د دوی دریځ دی، چې په کافر لویدیځ کې ستاسو دښمن تعریفوي، تر دې ډېر؛ دوی خپل ځانونه او پوهه د لویدیځ په چوپړ کې ورکړې ده، له دوی سره د اسلام او د اسلامي مفکورو پر وړاندې جګړه کې ولاړ دي، دې ته یې پام نه دی او غواړي په زور او جبر سره د لویدیځ او د دوی د اجیرانو د نظام په پلي کولو سره تاسو تر خپل سیوري لاندې راولي، په داسې حال چې دوی پوهېږي ستاسو د ستونزو حل د نبوت پر اساس د راشده خلافت په منځ ته راتګ کې دی، موږ د دوی په دغه حقیقت پوهېدلو کې شک نه لرو، که دوی په دې نه پوهېدای، دوی بیا هېڅکله له پوهې ګټه نه اخیسته.

**اې د مصر شریفو خلکو:** ستاسو د ټولو ستونزو درمل په هغه څه کې دی چې حزب التحریر یې درته وایي؛ یوازینۍ د خلاصون لاره ده چې تاسو یې په لټه کې یئ. په پوځ کې خپلو مخلصو زامنو ته ووایئ چې له امت سره څنګ په څنګ ودرېږي او له لویدیځ او د هغوی له اجیرانو سره د اخلاص رسۍ وشلوي، له مومنو کارکوونکو سره یې اړیکه ټینګه کړئ چې ستاسو او خپل ځان لپاره د خلاصون لار ومومي، الله سبحانه و تعالی به ستاسو په وسیله خپله ژمنه پوره کوي، هغه دولت چې محمد صلی الله علیه وسلم یې زیری ورکړی پلي شي، مصر به له تاسو سره مصر المنوره شي.

الله سبحانه و تعالی دې د دې ښېرته راتګ زر تر زره زموږ په برخه کړي چې موږ یې عسکر شو.

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ]**

[انفال:۲۴]

***ژباړه: اې ایمان راوړونکو! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د پیغبر صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست چې کله پیغبر صلی الله علیه وسلم تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند دربښي***

**د حزب التحریر ولایه مصر مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۱**

**۱۴۴۱ د محرم ۱۴مه**

**۲۰۱۹ د سپټمبر ۱۳مه**